# دا کوویډ 19 دی او که د واکسین غبرګون؟

### د کوویډ 19 هغه نښې

چې د واکسین له امله نه را څرګندیږي:

**ټوخی**

**ساه لنډي**

**د پزې بهیدنه**

**د ستوني درد**

**د ذایقې یا بویایي حس د لاسه ورکول**

که تاسو پورتنۍ نښې نښانې لرئ او فکر کوئ چې تاسو به پر کوویډ 19 اخته یاست، نو روغتیایي لارښوونې ترلاسه کړئ. ښایي تاسو د کوویډ 19 معاینې ته اړتیا ولرئ.

### د واکسین هغه غبرګونونه

چې د کوویډ 19 له نښو نښانو سره ورته والی لري:

**تبه**

**ستړیا**

**د عضلاتو درد**

**نس ناسته**

**زړه بدوالی**

**سر درد**

د واکسین غبرګونونه باید په یوه یا دوه ورځو کې لرې شي. که تاسو ډېر د ناروغۍ احساس کوئ، د روغتیاي لارښوونو ترلاسه کولو په لټه کې شئ.

### د واکسین هغه غبرګونونه

چې د کوویډ 19 ناروغۍ سره نه څرګندیږي:

**درد**
**سوروالی، یا**
**ټوپ**
**د واکسین د ستنې په ځای کې**

که چېرته یو له دغو نښو نښانو څخه تاسو له عادي فعالیتونو څخه پاتې کوي (د بوټونو د بندونو تړل، ټایپ کول،...)، نو د روغتیایي لارښوونو د ترلاسه کولو په لټه کې شئ.

د کوویډ 19 واکسین د کوویډ 19 ناروغۍ لامل **نه کیږي**.

د کوویډ 19 واکسین د کوویډ 19 ناروغۍ د PCR د مثبتې معاینې لامل **نه کیږي**.

که چېرته ستاسو د کوویډ 19 ناروغۍ د معاینې پایله مثبته وي، د جلا اوسېدو لارښود تعقیب کړئ: **COVIDvaccineWA.org**

کوویډ 19 په پراخه کچه په واشنګټن کې د خپرېدو په حال کې دی. دا چې واکسین له وروستي دوز څخه وروسته د **2 اونیو** له پاره په بشپړه توګه اغېزناک نه وي، نو که چېرته له دغه وخت څخه مخکې تاسو بې احتیاطي وکړئ، د دې شونتیا شته چې ښایي تاسو لا هم پر کوویډ 19 اخته شئ. که تاسو له واکسین څخه وروسته د روغتیا احساس نه کوئ، نو دا چارټ له تاسو سره مرسته کوي چې ومومئ چې تاسو د واکسین پر وړاندې غبرګون ښیئ او یا پر کوویډ 19 اخته یاست.

**د هغو خلکو له پاره عمومي لارښوونې چې واکسین ترلاسه کوي:** که چېرته تاسو له واکسین ترلاسه کولو څخه 72 ساعته وروسته لا هم تبه لرئ (د بدن د حرارت درجه مو له 100.5 فارنهایت څخه لوړه وي)، نو په کور کې پاتې شئ. که چېرته له 48 ساعتونو څخه وروسته ستاسو تبه لرې شوه او د کوویډ 19 کومې نښې نښانې نلرئ، نو کولای شئ چې خپل کار ته ستانه شئ. که تاسو له واکسین ترلاسه کولو څخه 48 ساعته وروسته لا هم تبه او د کوویډ 19 نورې نښې لرئ، نو تاسو باید په کور کې پاتې شئ او د کوویډ 19 ناروغۍ معاینه وکړئ.

**DOH 820-124 April 2021 Pashto**

په یوه بل فارمټ کې د دغه سند د ترلاسه کولو د غوښتنې له پاره له 1-800-525-0127 سره اړیکه ونیسئ. کاڼه او هغه پیرودونکي چې د اورېدو ستونزه لري، کولای شي چې له 711 (Washington Relay) سره اړیکه ونیسي او یا د civil.rights@doh.wa.gov لارې برېښنالیک ور واستوي.

Washington State Department of Health